وطندار Vatandar
سیاسی فرهنگی ادبی فلسفی

۲۰۱۰-۰۷-۰۹

**بســـــــــــــــمل**



# ملی یوالی، ملی یوالی او بیا هم ملی یوالی

**عزتمنو لوستونکو!**

په نوي ډيلي کې د امريکا د پخواني سفير «رابرټ بلک ويل » **وروستی غير مسؤلانه او ظالمانه وړانديز چې د** امريکا حکومت ته يې کړی ددې سبب شو **چې د پورتني سرليک له مخې نن د باېرن مېشتوافغانانوکولتوري ټولنه پخپل نوبښت سره يو تيليفوني کنفرانس دايراو دجرمني له مختلفو ښارونو څخه بااحساسه او هېوادپال افغانان سره وصل کړي . مخکې له دې چې زموږ د کنفرانس له جريان څخه خبر شئ ښه به دا وي چې لمړی د**«رابرټ بلک ويل» له توطيو څخه ډک وړانديز ولولئ البته د تاند له درنو چلوونکو څخه مننه کوو چې دا لويه جفا او توطيه يې افشأ کړه :

## امريکايي ديپلومات د افغانستان د تجزيې وړانديز وکړ

## بلک ويل له ۲۰۰۱ تر ۲۰۰۳ پورې په هند کې د امريکاسفير و

تاند(پنجشنبه/جولای۸) په هند کې د امريکا پخواني سفيرد امريکا حکومت ته وړانديز کړی چې افغانستان دې موقتاً په دوو برخو وويشي، د جنوب پښتني سيمې دې پرېږدي او د کابل په شمول شمال او لوېديځ دې د دغو سيمو د اوسېدونکو په همکاری وساتي .



په نوي ډيلي کې د امريکا د پخواني سفير«رابرټ بلک ويل» وړانديز د امريکا په پوليتيکونشريې او د هند په ټايمز ورځپانه کې خپور شوی . په هغه کې ويل شوي چې د بلوا ضد اوسنی ستراتيژي نتيجه نه لري ځکه چې طالبان په دې خاطر چې د جګړې په ميدان کې نه دي مات شوي خبرو او پخلاينې ته حاضر نه دي .نو امريکا بايد د افغانستان د جنوبي ولايتونو کنټرول طالبانو ته ورپرېږدي .
څو کاله وړاندې د ولسمشراوباما د اوسني مرستيال جوبايډن په شمول ځينو امريکايي چارواکو وړانديز کړی وو چې امريکا دې خپل ځواکونه له افغانستانه وباسي او يوازې دې په لويو اډو کې د کوماندو او هوايي ځواک په وسيله د طالبانو مرکزونه په نښه کوي.
رابرت بلک ويل وايي په افغانستان کې د امريکا له کلونو- کلونوناسمې پالیسی وروسته د دغه هيواد له خرخوری څخه د وتلو لپاره اسانه، چټکه او بې مصرفه لار نشته خوله ټولو ستونزو سره سره د امريکا لپاره د ستراتيژيکې ماتې ترټولو ښه متبادل دا دی چې افغانستان تجزيه کړي.

دی وایي که امریکا د افغانستان جنوبي سیمې طالبانو ته ورپرېږدي ، خپل پام به شمالي او لوېدیځو سیمو ته واړوي چې د کابل په شمول د افغانستان شاوخوا شپېته فیصده نفوس پکې دېره دی.د دغو سیمو د اوسېدونکو اکثریت پښتانه نه دي او د امریکا له هلوځلو سره ملګري دي.

په هند کې د امریکا پخوانی سفیر په عین حال کې وایي :« د دې مانا به دا نه وي چې امریکا کاملاً ووځي بلکې د دې پرځای به موږ په افغانستان کې د القاعده پراډو او دغه راز د طالبانو پرمشرانو د حملو لپاره له هوایي ځواک او خاصو ځواکونو(سپېشل فورس) څخه کار اخلو.موږ به دغه راز له نویو ټاکل شویو پولو پر اوښتونکو افغان طالبانو او همدارز د پاکستان د پولو په اوږدو کې د تروریستانو پر پناهځایونو بریدونه کوو.»

بلک ویل همداراز لیکلي :امریکابه د افغانستان د لویدیځ ، شمال او کابل د ساتنې هڅه کوي چې په نسبي ډول د طالبانو حضور او نفوذ پکې کم دی .د بلک ویل په نظر له دې سره به په اوږده موده کې په افغانستان کې د ډېر شمېر امریکایي پوځیانو اړتیا پاته نه شي او ممکن ځلوېښت یا پنځوس زره کافي وي ځکه چې د ده په نظر دوی کولی شي په دې کار کې د ازبکو،هزاره وو،تاجکو او یوشمېر پښتنو ملاتړ ترلاسه کړي او د ناټو د متحدانو، روسیې، هند، ایران ،ممکن چین، د منځنۍ اسیا هیوادونو او د ملګروملتو د امنیت شورا حمایت هم جلب کړای شي.

دا امریکایي دیپلومات په خپل وړاندیز کې دا هم وایي چې د امریکا لاس به خلاص وي چې حتی د طالبانو پر غیرنظامي مشرانو هم د افغانستان په جنوب کې بریدونه وکړي.

دی دا هم وایي چې دا مسله به پاکستان خوابدی کړي.پاکستان د افغانستان له موقتي تجزیې سره مخالف دی او د اسلام اباد عکس العمل هم ساده خبره نه ده ځکه چې د پاکستان پوځ تمه لري چې له افغانستانه د امریکایی ځواکونو له وتلو وروسته به په خپله ستراتیژیک برې ترلاسه کړي .

زوروړو قدرتونو تل هغه ځای ، چې له مقاومت سره پکې مخامخ شوي ، تجزیه کړی او په سلو مصیبتونو یې اخته کړی دی .انګرېزان چې کله ونه توانېدل افغانستان ونیسي ، دا هیواد یې تجزیه کړ. روسانو هم چې زور ونه رسېد په افغانستان کې یې د قومي تعصبونو اور بل کړ چې تراوسه پورې افغانان ترې خلاص شوي نه دي.

که د رابرت بلک ویل وړاندیز عملي شو په هماغه اندازه چې بهرنیان به د افغانانو په نزد غندل کېږي ، هماغه شان به طالبان هم مسوول او ملامت وي چې هیڅ راز روغې جوړې ته غاړه نږدي.

http://taand.com/index.php?mod=article&cat=c66&article=20474

له تاند څخه په مننه

دملالي، ایوب خان او اکبرخان غازي سکه خویندو او وروڼو!

داده نږدې یوه لسیزه کیږي چې ځینولودیځوالود دیموکراسي په نوم ګډودي، دسولې په ځای داور لمبې،دنظم او سمون په ځای ناوړه اداره او اداري فساد، دکوکنارو دکرکیلې مخنوي په ځای دنشيي توکولا زیات تولید او قاچاق، د دسپلین، عدالت او انصاف په ځای خپل سرې، د دولتي او شخصي ملکیتونو او شتمنیوبې رحمانه غصب اونورې داسې ستونځې په لوی لاس را مینځ ته کړې څوڅګره لانوره هم پسې اوږده شي دوی دتعلیمي او تولیدي موسسودرامینځ ته کېدواو پراختیاپه ځای دجګړې دواړه خواوې اوږدې جګړې ته تشویق یا خو ړ او تمویل کړې ، جنګي جنایتکارانوته یې دسزأپه ځای لوړلوړموقفونه اولوړمالي امتیازات ورکړل، لوی قاتل نمک حرام رشیددوستم ته یې دومره واک ورکړچې همدااوس اوس په شمال کې په مختلفونومونو پنځه دوله ملېشې لري ددغوملېشوپوځي روزنه په ترکیه کې شوې ده محقق،خلیلي،قانوني،غبرګ عبدالله،لطیف پدرام او نور هېواددښمن عناصر یې د دې

لپاره ونازول اونازوي یې څو دافغانستان ریاستي نظام دخپلو تورو موخو د تطبق لپاره یا په فیدرالي نظام بدل او یا خوپه وچ زور اووحشت سره د«رابرټ بلک ویل» ریچاردهولبروک، ګالبراېټ اونورو دظالمانه تصمیم له مخې زموږ ګران هېواد تجزیه کړي مانا داچي دادجګړې اوږدېدل دهمدې تورو نقشو لپاره دي ځکه خو موږ ټول وروڼه قومونه ویښتیا او ملي یوالي ته رابولو که نه یو به هم پاته نه شي .

ظالم ډېورنډخو موږ په ملامات کړو دادی اوس خونړی«رابرټ بلک ویل» په ښکاره زموږ ټیټر اره کوي له همدې کبله د ده دظالمانه وړاندیز په وړاندې جرمن مېشتو افغانانو نن په یوتیلیفوني کنفرانس کي چي څه باندې یوه ګېنټه یې دوام وکړد خپل کلک غبرګون ترڅنګ ټول افغان ولس ته په لاندې ډول خپلې غوښتني اووړاندیزونه وړاندې کړل :

۱ ــ داچي د«رابرټ بلک ویل» او ده ته ورته کسانولکه ریچاردهولبروک،ګالبراېټ اونوروله ناوړو تورو نقشو څخه داسي ښکاري چي دا ټولي لوبي زموږ دګران افغانستان د تجزیې، تباهي، طبعي زېرمو، مادي او معنوي شتمنیودلوټ اوتالان لپاره رواني دي نوموږ له ټولووروڼو قومونوڅخه په کلکه هیله کووچي ملي یوالی ټینګ کړي تر څو دتورمخودا تورې نقشي له خاورو سره خاوري شي .

۲ ــ موږ له حامد کرزي څخه په کلکه غوښتنه کووچي که څان دافغانستان ولسمشر ګڼي نوژر تر ژره دې په اړوند سپیناوی وکړي ، «رابرټ بلک ویل» دې د دې ظالمانه وړاندیز،افغان ولس ته دتوهین او دافغان وروڼو قومونو ترمینځ دنفاق اچولواو جګړو ته هڅولوله کبله نړېوالي محکمي ته راکش کړي که ښاغلی کرزي ددی وس نه لري نو ژر تر ژره دې استعفأوکړي تر څو دافغان ولس په وړاندې خپل وجداني مسؤلیت ادا کړای شي .

۳ ــ موږ دکابل د اداري له وسلوالو مخالفینوڅخه هم په کلکه غوښتنه کووچي که څانونه ددې هېواد زامن ګڼي نو په خپلو کړنودې له سره غور وکړي، اوس خو دادی هغه پټي تورې نقشي او توطیې هم بربنډې شوې دا دی په ډګردابدالي اومیرویس خان تاریخي افغانستان درته تجزیه کوي،زموږ وروڼه قومونه یودبل په ضداوږدې جګړې ته مجبوروي او په ناورین پسي ناورینونه راوړي اوس نو تاسو هم بایدافغان ملت ته خپل رسمي دریځ روښانه کړئ لکه څنګه چي تاسو تېره اونۍ دبایرن مېشتو افغانانو دکولتوري ټولنې د پرېکړو په وړاندې د یوې اعلامې په ترڅ کي خپل مثبت، رسمي اوکلک غبرګون وښودڅوپه اوسني کړکېچن وخت کي دافغانستان طبعي زېرمې مزایدو او قراردادنو ته وړاندې نه شي دا ځل هم د «رابرټ بلک ویل» په وړاندیز خپل رسمي دریځ روښانه، د ملي یوالي لپاره اړین ګامونه پورته اودالویه توطیه شنډه کړئ که نه نو راتلونکي نسلونه به تاسي هم د دې توطیې شریکان وبولي .

۴ــ موږ په هېوادکي دننه او بهر له ټولو سیاسي، فرهنګي، مذهبي، مدني، نورو ټولنیزو جوړښتونو او کړیو څخه په زغرده غواړوچي په افغاني مېړانه سره د «رابرټ بلک ویل» غیرمسؤلانه او ظالمانه وړاندیز په غونډو او محفلونو کي په رسمي ډول سره وغندي ، خپل مینځي اختلافات هېر، د ملت او ملي ګټو لپاره یو او بل ته لاسونه ورکړي او که نه نو نه به ستاسوننۍ چوکۍ اوموقفونه پاتې شي او نه به موقلم او کتابونه داځکه چي غلیم زموږ اوتاسو په هراړخیزه تباهي پسي راغلی ، دا ښکېلاکګر به زموږ راتلونکي نسلونه هم په جګړو کي پولۍ پولۍ اوافغانستان به په یوه داسي شاړه دښته بدل کړي چي بیا به نه نوم ولري او نه نشان دزرګونو کلونو تاریخ به درته پاتې پاتې وسوځوي .

باید زیاته کړو چي زموږ د نننۍ تیلیفوني کنفرانس جزیات په بلجیم کي د افغان کلتوري بهیر مسؤل قدرمن حاجي امین باوري ته دتیلیفون په ذریعه ورکړل شول له باوري صاحب څخه مننه کووچي له ډېر مصروفیت سره سره یې داجزیات له ځان سره ولیکل، هغوی نن اوسبا یوه لویه غونده لري هیله من یوچي پخپله غونده کي به

زموږ ورانديزونه او غوښتني د دوی د درني غونډې اروپا، امريکااوافريقا مېشتو ګڼ شمير با احساســـه او
هېواد پالو پوهانو ، ليکوالانو او شاعرانو ته ور واوروي .
۵ ـ موږ دملګرو ملتونو له سازمان څخه هيله کوو چې دانساني او اخلاقي نورمونو له مخې «رابرټ بلک ويل»
محاکمه کړي دا ځکه چې موږ بېګناه افغانان له دريو لسېزو څخه زيات داور په مينځ کې کړېږو خو د «رابرټ
بلک ويل» لا زړه نه دی راباندې سوړشوی که دملګرو ملتونواداره په دې اړوندڅه ونه کړي بيابه دخپلواک ونه
بلله شي .
موږله «رابرټ بلک ويل» څخه پوښتنه کوو چې که يو افغان سفير يا کوم سياسي کس ووايي چې امريکا دې په
شمال او جنوب تجزيه شي بيا دې د دواړو خواوو وګړي له يو اوبل سره جګړو ته تشويق يا اړ کړل شي اويا دې
الاسکا له امريکا څخه بېله او بېرته دې روسانو ته ورکړه شي نو به ستاسو ښاغلي غبرګون څه وي ؟
دوه اړيني يادونې :
۱ ـ زموږ دننني تيليفوني کنفرانس ګډونوالو داوپټيبله چې په جرمني کې دامريکا سفارت ته شکايت وکړو هغه
و چې د ملګرو په خوښه زموږ يو ملګري د برلين په ښار کې دامريکا له سفارت سره تيليفوني اړيکه ونيوه
خوسفير چېرې تللی و بيايې سکرترې زموږ شکايت يادداشت اوهم په ځانګړي اتومات کې ثبت شوداګړی خو
زموږ دومره په وس کې ونوره مرسته او بری به له خدای (ج) څخه غواړو .
۲ ـ کېدای شي ځينو لوستونکو ته پوښتنه پيدا شي چې دا تيليفوني کنفرانس به څه وي؟
ځواب دا دی چې د تخنيک د پرمختګ له برکته دنړۍ له هرګوټ څخه لسګونه تيليفونونه وصل کېدای شي دې
ته اړه نشته چې ديوې غونډې لپاره ځوک له ارپاڅخه امريکا، استراليايا کوم بل ځای ته ولاړ شي نن سبا د
ډېرولږې پرتو هېوادونو او وچو اوسېدونکي کولای شي په يو تيليفوني کنفرانس کې ګډون سره وکړي، په ډېر کم
وخت کې يوه معينه موضوع وڅېړي او نتېجې ته ورسيږي .
دا کاريو څه موده کيږي چې پيل شوی خو موږ دلمړي ځل لپاره همدا نن جرمن مېشتي افغانان سره وصل او د
خپل ګران افغانستان دنجات لپاره موبحث وکړ داځل خودجرمني له مختلفو ښارونو څخه زموږ ملګري راسره
وصل ووکه خدای کول په راتلونکي کې به له خيره سره دنړۍ په کچه له قدرمنوهېوادپالوافغانانوسره وصل شو.

تل دې وي افغانستان ټينګ دې وي دافغان قومونو ملي يوالی

دبايرن مېشتو افغانانو کولتوري ټولنه


**رفقا، دوستان عزیزتارنمای وطندار ! لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و**

**مطالب علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید**

admin@vatandar.at

مدیر مسوول : دیپلوم انجنیرعمر محسن زاده

صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی

کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد

برگشت به صفحه نخست

http://www.vatandar.at/

بقیه گزیده های مقالات محمد امین بسمل

http://www.vatandar.at/indexdeseyasi